# میرمن

افغانو میرمنو ته ځانګړې شوې مجله

لومړی کال؛ دوه‌یمه ګڼه

منی؛ ۱۴۰۳ ل.ل





## د اسلامي لارښوونو په رڼا کې د ښځو د زده‌کړې حق

محمد رضا معرفت

په معاصرو حقوقي اسنادو کې د زده‌کړې د حق موضوع پخپل ځای؛ خو موږ وینو چې دا مسله له اسلامي فقه پوهانو څخه هم ګونګه او ناڅېرلې نده پاتې؛ ځکه چې د اسلامي حقوقو لیکوالانو (فقه پوهانو) په دې اړه ژور او دقیق بحثونه ترسره کړي دي؛ خو هغه څه چې ټول اسلامي فقه پوهان پرې موافق دي، دا دي چې د زده‌کړې حق د انساني حق په توګه ټولو انسانانو ته ورکړل شوی دی او دا حق د ټولو انسانانو لپاره یو ډول دی، پرته له دې چې د هغوی جنسیت، پیدایښت، نسل، مذهب، قوم، تابعیت او داسې نور په پام کې ونیسو.

## د ښځو په پیاوړتیا کې د ټولنیز ملاتړ رول

ایمان قریشي

ټولنیز ملاتړ دې موضوع ته اشاره کوي، چې یو کس پخپل ژوند کې او د ستونزو پر مهال د خپلې کورنۍ، دوستانو او نورو نږدې کسانو له همفکرۍ او مرستې څخه برخمن شي او له دوی سره د نږدېوالي احساس وکړي. په دې څېړنه کې ملاتړ د حمایتي کړنو په بڼه دی، یعنې مختلف ډولونه د مرستې او ملاتړ چې فرد یې د مختلفو ټولنیزو اړیکو په پایله کې تر لاسه کوي؛ دا مرستې او ملاتړ د عاطفي، وسایلي او معلوماتي مرستو بڼه لري.

عاطفي ملاتړ په هغو مرستو دلالت کوي، چې یو کس یې د ستونزو او د ژوند د سختو شېبو پر مهال له نورو څخه تر لاسه کوي. دا ډول ملاتړ د عاطفي اړیکو په جوړولو او ساتلو کې مهم رول لوبوي؛ ځکه چې د دې له لارې کس ته دا احساس ورکول کېږي، چې یواځې ندی او د نورو ملاتړ له ځانه سره لري. په ځانګړې توګه، د ښځو په ځواکمنتیا کې د عاطفي ملاتړ اغېز ډېر ارزښت لري؛ ځکه چې دا ډول ملاتړ هغوی ته د ذهني آرامۍ، ځان‌باور او له ستونزو سره د مبارزې وړتیا ورکوي.



د «مېرمن» مجلې ټول حقونه له «مېرمن میډیا» سره خوندي دي.

# پېژندنه

نوم: مېرمن

د امتیاز خاوند: مېرمن میډیا

چیف ایډېټر: سهراب سپر

کتنپلاوی: د مېرمن میډیا غړي

ګرافیک ډیزاین: علي یزدان‌پناهي

د خپرېدلو نېټه: منی ۱۴۰۳ل.ل

د مجلې لیکوالان: محمد رضا معرفت
ایمان قریشي
شمس ځلاند
عاطفه بهشتي

د ویب‌پاڼې پته: www.merman.media

پە لاندې ایمیل له موږ سره اړیکه ونیسئ

contact@merman.media

په ټولنیزو رسنیو کې مو هم څارلی شئ؛

Merman Media

Merman

MEDIA

# لړلیک


د دوه‌یمې ګڼې سریزه

د مېرمن مجلې اداره

۲

د اسلامي لارښوونو په رڼا کې د ښځو د زده‌کړې حق

محمد رضا معرفت

۳

د ښځو په پیاوړتیا کې د ټولنیز ملاتړ رول

ایمان قریشي

۸

په افغانستان کې د نجونو د پیاوړتیا لپاره د پټو ښوونځیو رول

شمس ځلاند

۱۴

د ټولنې په پرمختګ کې د ښځو د کار رول

عاطفه بهشتي

۱۸

# د دوه‌یمې ګڼې سریزه

د مېرمن مجلې اداره

**د آدم زویه ما ته سپک مه ګوره!**

د مېرمـن مجلـې دوه‌یمـه ګڼـه پـه خزان موسـم کـې خپرېږي، هغه هـم نه یواځې پـه ګلونو او بوټـو خزان دی، بلکـې په افغان مېرمنـو هـم خـزان دی؛ ځکـه د امېد او هیلو غوټۍ یې ناسـپرل شـوې، تویې دي.

مـوږ پـه داسـې حـال کـې دا مجلـه وړانـدې کـوو، چـې تـر ټولـو طبیعـي حـق، یعنـې د زده‌کـړو حق لـه افغـان مېرمنـو تروړل شـوی دی او لا هـم اکثریت نـړی‌وال او دننني اړخونـه، ځواکونـه او اشـخاص پـه دې ظلـم چوپـه خولـه دي. د ننـۍ نـړۍ دننـه افغانسـتان یواځینـی هېـواد دی، چـې هلتـه د نجونـو زده‌کـړې پټې تـرسره کېږي، زده‌کـړه یې جرم بلل کېـږي، مالي او ځـاني سـزاوې لـري او لـه بلـې خـوا بیا خـراب اقتصـادي حالـت ورځ تر بلې افغـان مېرمنـې تر نورو ډېـرې ځپي؛ ځکـه افغان مېرمنـې لـه کار کولـو هـم منعـه دي. دغـو ټولـو محدودیتونـو یـوه بل تـه لاس ورکـړی دی او د افغـان مېرمنـو د هیلو غوټۍ یـې رژولې دي.

پـه دغـه مجلـه کـې زمـوږ درنـو لیکوالانـو تـر ډېره پـه دې تمرکز کـړی دی، چـې له یـوې خـوا د افغانسـتان دننیـو اړخونو، قوتونـو او واکمنانـو تـه قناعـت ورکـړي، چـې افغـان مېرمنـې زده‌کړو ته پرېـږدي او لـه بلې خوا افغـان مېرمنې خپلـو حقوقو څخـه خبرې کـړي او د هغـو د اخیسـتلو لپاره یـې وهڅوي.

کـه د نـړۍ هـر هېـواد وګـورو؛ نـو شـاوخوا نیمایي نفـوس یې ښـځینه دی او دا یعنـې د کار نیمایـي ځواک مېرمنـې دي. که چېرتـه پـه یـوه هېـواد کـې مېرمنې لـه کاره بې برخې او منعـه شي، هلته نه یواځې نیـم په نیمه کاري ځـواک راکمېږي، بلکې د نارینـه‌وو مؤلدیـت او وړتیـا هـم ورسره کمېـږي؛ ځکـه لـه ځـان سره باید د نیمایي نـور نفوس بار هم پـه اوږو واخلي.

لـه همـدې املـه کـه یـوه ټولنـه غـواړي، هوسا واوسي، نـو باید لـه خپـل نیمایي نفـوس یا نیمـې کورنـۍ، یعنـې مېرمنو څخه بایـد کلـک او دوامـداره ټولنیز ملاتـړ وکـړي.

دا چـې څنګـه بایـد دا ملاتـړ وکـړي، د مېرمنـو ګـډون څنګـه او ولـې پـه کاروبـار آغېـز کولـی شي؟ د نجونـو پـټ ښـوونځي څنګـه چلېـږي او څـه تـه اړتیـا لـري او ولـې اړین دي؟ د اسلام نظـر د ښـځینه‌وو کار او زده‌کړې پـه هکله څـه دی، د ټولنې پرمختـګ کـې یـې رول څـه دی؟ دا او نـورې ډېـرې پوښتنې مو همدې ګڼه کـې درنو او قدرمنـو لیکوالانو ځـواب کړې دي.

هیلـه ده، تاسـې یـې هـم پـه کـراره ولولـئ او پیغام یې نورو ته ورسـوئ او هم یـې خپلې کورنـۍ، ځـان او ملګـرو سره په ځانونو تطبیـق کړو.

د یوې داسې نړۍ په هیله، چې مېرمنې یکې برابر حقوق ولري.



# د اسلامي لارښوونو په رڼا کې د ښځو د زده‌کړې حق

محمد رضا معرفت

**سریزه**

د زده‌کړې حق په اصل کې یو ډول امتیاز دی، چې ټول انسانان یې د فردي ودې او ټولنیز پرمختګ په خاطر باندې، نه یواځې حق لري، بلکې اړتیا هم ورته لري. معاصر بشري حقونه، چې له ماډرنېزم څخه زېږېدلي دي، د بشر د حقونو پر یوه ټولګه ټینګار کوي، چې هر انسان د انسانیت په توګه د هغو مستحق دی، چې له ډلې د زده‌کړې حق هم دی. په اسلامي افکارو کې، سره له دې چې پر علم ډېر ټینګار شوی؛ خو بیا هم د ښځو د زده‌کړې حق تل له موافقې او مخالفت سره مخامخ شوی دی. دا موضوع د دیني متونو او د اسلامي پوهانو د آثارو په دقت سره مطالعې او په ښه توګه پوهېدنې ته اړتیا لري.

په دې لیکنه کې د موضوع د اهمیت په پام کې نیولو سره هڅه شوې ده، چې د اسلامي فقه پوهانو نظریات او شرعي مستندات وڅېړل شي او د ښځو د زده‌کړې حق تر بحث لاندې ونیول شي؛ خو له دې وړاندې، اړینه ده چې د زده‌کړې د حق مفهوم ته پام وکړو.

## د زده‌کړې د حق مفهوم

د زده‌کړې حق، چې په ځینو سرچینو کې ورته د زده‌کړې آزادي هم ویل کېږي، په لنډ ډول د ښوونې او زده‌کولو د امتیاز لرلو په معنیٰ دی. یا په بل عبارت باندې د زده‌کړې حق په دې معنیٰ دی، چې هر انسان د «زده‌کړې ترلاسه کولو» او «د زده‌کړې ورکولو» وړتیا او صلاحیت لري او په دې برخه کې ورته باید هېڅ ډول خنډ موجود نه وي.(عباسي، ۱۳۹۰ل: ۱٦۹)

څه چې روښانه دي، دا دي چې په عمومي ډول د زده‌کړې د حق موضوع او په ځانګړي ډول بیا د ښځو د زده‌کړې حق د بشري حقونو په چوکاټ کې ځای لري. له همدې امله، د بشري حقونو په سرچینو کې د زده‌کړې حق د بشري حقونو یوه برخه ګڼل شوې او له همدې امله د انسانانو ترمنځ په دې برخه کې هېڅ ډول توپیر نشته، که هغه جنسیت، ژبه، نسل، قوم، پیداینښت، تابعیت، مذهب او داسې نور وي. په دې اساس، انسانان یواځې د انسانیت له مخې د «زده‌کړې ترلاسه کولو» او «زده‌کړې ورکولو» حق لري. د معاصرو نړی‌والو حقونو اسنادو هم په همدې نظر د زده‌کړې حق د بشري حقونو یوه بېلګه ګڼلې او د هغه د ملاتړ او پراختیا لپاره یې جدي میکانیزمونه په پام کې نیولي دي؛ (۱۹۴۸ز د بشري حقونو نړی‌واله اعلامیه، ۱۹٦٦ز د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون)

په معاصرو حقوقي اسنادو کې د زده‌کړې د حق موضوع پخپل ځای؛ خو موږ وینو چې دا مسله له اسلامي فقه پوهانو څخه هم ګونګه او ناڅېړلې نده پاتې؛ ځکه چې د اسلامي حقوقو لیکوالانو (فقه پوهانو) په دې اړه ژور او دقیق بحثونه ترسره کړي دي؛ خو هغه څه چې ټول اسلامي فقه پوهان پرې موافق دي، دا دي چې د زده‌کړې حق د انساني حق په توګه ټولو انسانانو ته ورکړل شوی دی او دا حق د ټولو انسانانو لپاره یو ډول دی، پرته له دې چې د هغوی جنسیت، پیداینښت، نسل، مذهب، قوم، تابعیت او داسې نور په پام کې ونیسو.

اسلامي لیکوالانو هم د دیني او شرعي متونو په استناد، «زده کولو/تعلیم» او «ورښودلو/تعلم» ته د پیغمبرانو د مبعث یوه مهمه موخه ګڼلې او د انسان د لوړتیا او تکامل لپاره یې اړین ګڼلې دی. (الیاسي، ۱۳۹۴ل: ۳۵۲)

د اسلامي متفکرینو په باور، زده‌کړه او ښودنه نه یواځې د یوه حق په توګه پېژندل کېږي، بلکې د مسلمانانو دنده او مکلفیت هم ګڼل شوی دی. د دې خبرې د ثابتولو لپاره د رسول الله(ص) دغه مبارک حدیث ته اشاره کولی شو، چې فرمايي: «د علم حاصلول په هر مسلمان باندې فرض دي(هغه که نارینه وي، که ښځینه).» (کلیني، ۱۳۸۵: ۱/۳۰ او مجلسی، ۱۳۸۵: ۱/۱۷۱). که څه هم ځینې اسلامي فقه‌پوهان د دغه حدیث سند قوي نه بولي؛ خو آیت‌الله محسني(رح) په «معجم الاحادیث المعتبره» کتاب کې دغه حدیث د خپل تواتر له امله صحیح او معتبر ګڼلی دی. د ده په باور، په حدیث کې «مسلم» کلمه هم د نارینه او هم د ښځې په معنیٰ ده، لکه څنګه چې په ډېرو آیاتونو کې دا شان راغلي دي.(محسني، معجم الاحادیث المعتبره، ۱۳۹٦: ۱/۵۱)

د اسلام له نظره، د زده‌کړې حق ته په عمومي توګه او ښځو د زده‌کړې حق ته په ځانګړې توګه د یاد شوي حدیث ذکر کول بسنه کوي او هېڅ ډول شک پرې نه پاتې کېږي؛ خو ځینې اسلامي فقه پوهانو بیا د قرآن کریم د مبارکو آیتونو په څرګندو او صریحو نصوصو سره د علم او پوهې د زده‌کړې نه یواځې مخالفت ندی کړی، بلکې په ډېر ټینګار سره یې د ترسراوي لپاره توصیه هم کړې ده. مبارک آیت: «وَ قُل رَبِّ زِدنِی عِلماً» (طه/۱۱۴) الله(ج) انسان دې ته رابولي، چې د هغه له الهي درباره د خپل علم د زیاتوالي غوښتنه وکړي: «او ووایه، پروردګاره، زما په علم کې زیاتوالی راوله!»

له بلې خوا، د اسلام په ګران پېغمبر باندې په لومړنیو نازل شوو آیتونو کې الله(ج) رسول‌الله ته د لوستلو امر کوي او فرمايي: «اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ» (علق/۱) د اسلامي مفسرینو او لیکوالانو په باور، الله(ج) د دغه مبارک آیت له لارې د انسان عقل له جهل او خرافاتو څخه د علم، پوهې او اخلاقو لوري ته رهنمایي کوي.(الغامدي، ۱۳۹۴ل: ۱۵۴)

د دغو مبارکو آیتونو او د اسلامي نړۍ د مفسرینو نظریاتو ته په کتو څرګندېږي، چې تعلیم او زده‌کړه د انسانیت لپاره، که هغه ښځه وي او که نارینه، نه یواځې د حق په توګه، بلکې د نورو په پرتله د لوړتیا یو معیار هم ګڼل کېږي. په همدې اساس سره ویلی شو، چې د زده‌کړې حق د معاصرو نړی‌والو حقوقو او اسلامي فقهې دواړو له نظره یو درونـد

او ارزښتناک حق دی. یوازینی توپیر دا دی، چې معاصرو نړۍوالو حقوقو، زده‌کړه یوازې د انسانانو لپاره د یوه امتیاز په توګه ګڼلې ده؛ خو اسلامي ديني متونو کې دا امتیاز نه یوازې د یوه حق په توګه راغلی دی، بلکې د نورو انسانانو په پرتله د یوه انسان د ښه‌والي دلیل هم دی او له دې سره څنګ کې یوه ديني فریضه او مکلفیت هم دی.

مرحوم کلیني په اصول کافی کې په معتبر سند سره نقل کړي دي: «عالم ینتفع بعلمه خیر من سبعین الف عابد» هدف يې دا دی، چې «هغه عالم چې له خپل علم څخه ګټه اخلي، (یا ترې نور څوک ګټه واخلي) له اویا زرو عابدانو څخه ښه دی.»

له شک پرته، په اسلامي فکر او عقیده کې د علم زده‌کړه ډېر زیات اهمیت لري، چې په قرآن او احادیثو کې يې یادونه شوې ده. هغه څه چې قرآني منطق د زده‌کړې په اړه راڅرګندوي، دا دي چې علم او پوهه نه یوازې د انسان لپاره یو امتیاز دی، بلکې د انسان د تکامل او لوړتیا راز هم ګڼل شوی دی. الله(ج) د علم حاصلول د مؤمن انسان له ایمان سره برابر ګڼلی او فرمايي: «یرفع الله الذین آمنو منکم والذین اوتوا العلم درجات»(مجادله/۱۱)

ژباړه: «الله به په تاسو کې د هغو کسانو درجې لوړې کړي، چې ایمان يې راوړی دی او علم ورکړل شوی دی.»

همدارنګه الله(ج) د قرآن په بل ځای کې دا موضوع په جدي ډول سره یادوي او په استفهامي قالب کې د علم د اهمیت او د عالم د مقام په اړه خبره کوي: «هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون» (زمر/۹).

ژباړه: «آیا هغه کسان چې علم لري، له هغو کسانو سره برابر دي، چې علم نلري؟»

دغه آیتونه په څرګنده توګه د انسان لپاره د علم اهمیت په ډاګه کوي او په ټولو آیتونو کې په مطلق ډول ذکر شوي دي، چې د علم زده‌کړه په هېڅ کومې طبقې، جنسیت، قومیت او مذهب پورې محدوده نده. له دې امله، په اسلامي افکارو کې زده‌کړه هم د یوه مسلم حق په توګه ګڼل شوې، هم د مکلفیت په توګه او هم د انسانانو ترمنځ د لوړتیا د یوه معیار په توګه باندې یاده شوې ده.

## د اسلامي لارښوونو له مخې د ښځو د زده‌کړو حق

وړاندې مو وویل، چې له یوې خوا زده‌کړه د انسان له طبیعي او فطري حقوقو څخه شمېرل کېږي، چې هم يې په عصري حقوقي نظامونو کې او هم يې په اسلامي احکامو او ديني متونو کې ملاتړ شوی دی. له بلې خوا، دا امتیاز په ټولو حقوقي نظامونو کې یوازې د انسان د انسانیت له امله ورکړل شوی دی او د جنسیت، قوم، مذهب او نورو په اساس هېڅ توپیر پکې نشته. بله خبره دا، چې د زده‌کړې د حق اړوند د معاصرو حقوقو او اسلامي حقوقو ترمنځ توپیر په دې کې دی، چې په معاصرو حقونو کې زده‌کړه کول یوازې یو حق او امتیاز ګڼل کېږي؛ خو په اسلامي باورونو کې نه یوازې دا یو حق دی، بلکې تر دې هاخوا یو مکلفیت او فریضه هم ګڼل کېږي. د دې خبرې د ثابتولو لپاره د قرآن کریم ځینې آیتونه دي، چې زده‌کړه او علم د انسانانو ترمنځ د برترۍ لامل بولي؛ خو په دې برخه کې غواړو، چې د اسلامي فقه پوهانو نظر، په ځانګړي توګه بیا د ښځو د زده‌کړې حق په اړه وڅېړو.

محمد یزدي د اسلامي فقه پوهانو له ډلې څخه یو دی؛ هغه علم له طبیعي حقونو څخه یو حق ګڼلی او ویلي يې دي: «هېڅوک هم باید له زده‌کړې څخه منعه نشي؛ له زده‌کړو څخه یو څوک منعه کول، د بشري حقونو خلاف څه دي.» (یزدي، ۱۳۹۰ل: ۷۰). علامه حلي(ح) د علم زده‌کړې په اړه ویلي، چې اسلامي احکام علم په څو برخو وېشي. ځینې علوم داسې دي، چې زده‌کړه يې عیني واجب ګڼل کېږي، چې موږ يې د عقایدو علم بولو؛ ځینې علوم دي، چې زده‌کړه يې کفايي واجبه ده، لکه اصول الفقه، طب، ریاضي او نور . . . ځینې علوم داسې دي، چې زده‌کړه يې مستحبه ده، لکه هر هغه علم چې په ټولنه کې متخصصین پکې موجود وي؛ د ځینو علومو زده‌کړه حرامه ده، لکه جادو، فال لیدنه او غیب‌ویل او نور چې په دې احکامو کې د نارینه او ښځینه ترمنځ هېڅ توپیر نشته؛ یوازې ښځې باید هڅه وکړي، چې په علم زده‌کولو کې حرامو کارونو ته داخلې نشي.(حلي، تذکره الفقها: ۹/۳۶-۳۷)

آیت الله فیاض(دام عزه)، چې د اسلامي نړۍ یو مشهور فقه‌پوه دی، هم د اسلام د پېغمبر د حدیث په استناد ویلي، چې علم دوه ډوله دی؛ «العلم علمان، علم الأبدان و علم الإيمان»؛ یعنې یو ديني علم او بل د بدن علم (طب). هغه واضحه کړې، چې اسلام، طب علم ته د ديني علم په څېر ارزښت ورکړی او هغه ټولنه چې له طب علم څخه بې برخې

وي، ناروغه، وروسته پاتې او بې ارزښته ګڼل کېږي. په دې برخه کې هم د نارينه او ښځينه ترمنځ هېڅ توپير نشته.
د آيت الله العظمی محسني په نظر د ښځو د زده‌کړې حق د لومړني شرعي حکم له مخې نه يواځې يو حق او امتياز دی، بلکې د شرعي مکلفيت په توګه هم ګڼل کېږي. د ياد فقيه د خبرو مطابق موږ دا درې مباحث تر څېړنې لاندې نيسو؛ «عمومي ليد»، «د مېرمنو د زده‌کړو اړتيا» او «د مېرمنو د زده‌کړو شرايط او خنډونه».
د آيت‌الله محسني له نظره په اسلامي شريعت کې د ښځو د زده‌کړې د حق په اړه د هغه حکم هغه وخت لا زيات روښانه او ژورېږي، چې هغه د علم ترلاسه کول، عبادت بولي. په دې اړه هغه ويلي دي: «د انسان د پيدايښت په اړه هم دا پوښتنه مطرح ده، چې ولې پيدا شوی دی؟ د دې پوښتنې ځواب قرآن مجيد دا ډول ورکوي، چې د الله(ج) د عبادت لپاره پيدا شوی دی. عبادتونه، لکه لمونځ، روژه، خمس، زکات، حج، جهاد، اعتکاف او نور مستحب کارونه، لکه ټولنيز خدمتونه، د الله(ج) له مخلوق سره مرسته، په مختلفو برخو کې درس لوستل او علم زده کول؛ په دې نيت، چې درس ولولي، علم ومومي او د خدای مخلوقاتو، مسلمانو وګړو او خپلو اسلامي هېوادونو ته خدمت وکړي؛ نو دا ډول علم په عبادت کې شمېرل کېږي.» (محسني، انوار هدايت، ۱۳۹۴ل: ۲/ ۲۷۷)
په دې بيان کې علم زده کول د الهي عبادتونو برخه ګڼل شوې او په دې کې هېڅ شک نشته، چې د دې حق په برخمنېدو کې د نارينه او ښځينه ترمنځ هېڅ کوم توپير نشته؛ ځکه چې الله تعالی فرمايلي دي: «وما خلقت الجن و الانس الا ليعبدون» (الذاريات/٥٦).
ژباړه: «ما پېری او انسان د عبادت لپاره پيدا کړي دي.»
لکه څرنګه چې د الله په عبادت کې د نارينه او ښځينه ترمنځ توپير نشته، په علمي زده‌کړو کې هم نشته. په ټوليز ډول د محسني فقهي نظر په دې برخه کې د ښځو په حق کې دا دی، چې: «د ښځې په کور کې بندي کول او بېسواده پرېښودل په دې زمانه کې د ښځې لپاره مناسبه نه ده. ښځو ته د زده‌کړو اجازه ورکړئ، چې د خپلو ديني احکامو زده‌کړه وکړي. په تقوا او ادب سره، د حجاب په ساتلو سره د ښځو لپاره په ټولنيزو او سياسي چارو کې د ګډون لاره هواره کړئ او دوی ته اجازه ورکړئ، چې له خپلې خوښې سره سم په ورزشي فعاليتونو، لکه فوټبال، واليبال، ټېنس او لامبو وهلو کې ګډون وکړي، په داسې چاپېريال کې، چې له نارينه‌وو لرې وي او عاقبت سنجوونکي مصلحين بايد پوه شي، چې په ښځو په بنديزونو کې افراط د تفريط او تفريط بيا د افراط لامل کېږي.» (محسني، زن در شريعت اسلامی، ۱۳۹۱ل: ۸۹)

## شرايط او محدوديتونه

په لنډ ډول د محدثينو او د فريقينو د فقهاوو په نظر د ښځو د زده‌کړې شرايط او محدوديتونه په لاندې نکاتو کې رانغاړل کېږي؛
۱. د زده‌کړې په وخت کې د نجونو او هلکانو ترمنځ جلا والی؛ اهل سنت علماء په دې اړه وايي، چې که ټولګی په داسې ډول منظم وي، چې هلکان په لومړۍ برخه کې کېني، ټولګي ته د ننوتلو ځانګړې دروازه ولري، نجونې يې شا ته کېني، مناسب واټن رعايت شي او نجونې هم له ځانګړې لارې ټولګي ته ننوځي – راووځي او يا هم که چېرته ښځينه استاده موجوده نه وي؛ نو په پورتنيو شرايطو سره په ګډه زده‌کړه کې کومه ستونزه نشته او روا ده. (زيدان، مخکېنی: ۱۳۹).
۲. ښځې بايد د زده‌کړو په دوران کې داسې جامې واغوندي، چې د نارينه‌وو لپاره جذابې نه وي او د بدن کومه برخه يې پکې ښکاره نشي.
۳. غوره ده، چې ښځې ښځو ته تدريس وکړي؛ خو که چېرته ښځه استاده موجوده نه وه؛ نو د آمين او پرهېزګار نارينه ښوونکي شتون هم کومه ستونزه نده. د اهل سنت د احاديثو مطابق په اسلامي شريعت کې د ښځو په منځ کې د نارينه شتون حرام خلوت نه بلل کېږي.
۴. د زده‌کړې لپاره له کور څخه د وتلو لپاره ښځه د مېړه اجازې ته اړتيا لري(البته که يې واده کړی وي.) يا د سرپرست اجازې ته اړه ده(هغه چې واده يې نه وي کړی.)؛ خو د ديني علم د زده‌کړې لپاره دا شرط نشته.
۵. زده‌کړې بايد په داسې چاپېريال کې وي، چې د ښځو عزت او حيا ته پکې زيان ونه رسېږي. که چېرته داسې وي؛ نو مېرمنې دې د علم د ترلاسې لپاره داسې چاپېريال ته مراجعه وکړي، چې کوم شرعي خنډ پکې موجود نه وي.

## پایله

د دې لیکنې په پای کې د اسلامي نړۍ د فقه پوهانو د علمي او فقهي نظریاتو په رڼا کې څرګندېږي، چې د ښځو د زده‌کړې حق نه یوازې چې منعه شوی ندی، بلکې په ډېریو مواردو کې دا یو کفایي واجب ګڼل شوی دی. د اسلامي شریعت دا تګلاره د ښځو د زده‌کړې په اړه له دې امله ټاکل شوې، چې د ښځو د روزنې اهمیت په نسلونو، ټولنیز پرمختګ، د دیني هویت ساتلو او د اسلامي ټولنې د رهبرۍ په برخه کې څرګند دی. اسلامي احکام په ورته وخت کې په زده‌کړه د ټینګار تر څنګ په دې خبره هم ټینګار کوي، چې د ښځو زده‌کړه باید د هغوی شخصیت، پاکۍ، تقوا او دین ته زیان ونه رسوي. د ښځو د زده‌کړې چاپېریال باید داسې وي، چې دوی په دې جریان کې له خپل الهي فطرت او خدای ورکړو استعدادونو څخه د اسلامي امت د تکامل او خدمت لپاره ګټه واخلي.

## سرچینې


۱. قرآن کریم.

۲. ابو داوود سجستانی، سنن، تحقیق: شعیب ارنووط، دمشق، دارالرساله، ۲۰۰۹ز.

۳. د بشري حقونو نړۍ‌واله اعلامیه، په ۱۹۴۸ کال کې د ملګرو ملتونو له لوري تصویب شوې.

۴. الغامدي، عبداللطیف، حقوق بشر در اسلام، ۱۳۹۴ل.

۵. الیاسي، محمدقاسم؛ حقوق بشر و آزادی‌های اساسی، کابل؛ د خاتم النبیین(ص) پوهنتون خپرونې، ۱۳۹۴ل.

٦. بخاري، صحیح بخاري، څېړنه: مصطفی دیب البغاء، دار ابن کثیر، بیروت، الیمامه، سوم، ۱۴۰۷س.

۷. رازي، ابوالفتوح، روض الجنان و روح الجنان فی تفسیر القرآن، مشهد، ۱۴۰۸س.

۸. زیدان، عبدالکریم، ژباړه: سهیلا رحمتي، حقوق و تکالیف زن در اسلام، ډیجیټل نسخه، ۱۳۹۴ل.

۹. طبري، ابو جعفر محمدبن جریر، جامع البیان فی تفسیرالقرآن، بیروت، دارالمعرفه، ۱۴۱۲س.

۱۰. عباسي، بیژن، حقوق بشر و آزادی‌های بنیادین، تهران، دادګستر خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۰ل.

۱۱. علامه حلي، تذکره الفقها، جلد۹.

۱۲. کلیني، اصول کافی، تهران، اسوه خپرونې، ۱۳۸۵ل.

۱۳. محسني، محمدآصف؛ افق اعلی، کابل، د آیت‌الله العظمی محسني د آثارو د ساتنې او خپرولو مرکز، ۱۳۹٦ل.

۱۴. توضیح المسایل طبی، قم، د حرکت اسلامي فرهنګي خپرونې، ۱۳۷۵ل.

۱۵. روش جدید اخلاق اسلامی، کابل، خاتم‌النبیین(ص) علمي حوزه، ۱۳٦۵ل.

۱٦. زن در شریعت اسلامی، کابل، خاتم‌النبیین(ص) علمي حوزه، ۱۳۷۱ل.

۱۷. معجم الاحادیث المعتبره، قم، ادیان خپرندویه مرکز، ۱۳۹۲ل.

۱۸. نقش اسلام در عصر حاضر، کابل، ۱۳۸۷ل.

۱۹. مجلسي، محمدباقر، انتشارات اسلامیه، چاپ۴، ۱۳۸٦ل.

۲۰. د سیاسي او مدني حقونو نړۍ‌وال میثاق، په ۱۹٦٦م کې ملګرو ملتونو تصویب کړې دی.

۲۱. نسايي، السنن الصغری، څېړنه: عبدالفتاح ابوالغده، حلب، المطبوعات الاسلامیه، ۱۴۰٦س.

۲۲. یزدي، محمد، رویکرد متعالی فقه اسلامی به حقوق بشر، قم، امام خمیني علمي او څېړنیزه خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۰ل.



# د ښځو په پیاوړتیا کې د ټولنیز ملاتړ رول

ایمان قریشي

سریزه

د ښځو پیاوړتیا د پایداره پرمختګ یو له مهمو برخو څخه ده. ښځې د بېوزلۍ، تاوتریخوالي، مناسبې تغذیې او روغتیا نه درلودلو اصلي قربانیانې دي؛ نو له همدې امله د ښځو ژوند او وضعیت ښه کول د ټولنې لپاره ګټه لري. د ښځو د پیاوړتیا په برخه کې پراخې څېړنې تر سره شوې دي، چې په ځانګړې ډول نړۍوالې ټولنې پراخه څېړنې تر سره کړې دي، چې د ملګرو ملتونو او نړۍوال بانک د څېړنو یادونه کولی شو. له بله پلوه ډېری هېوادونو هم درک کړې ده، چې د

ښځو له پیاوړتیا پرته پایداره پرمختګ ممکن ندی. د ماشومانو روزنه، د کور چارې، چاپېریال ساتنه، له سرچینو او امکاناتو سالمه او مناسبه ګټه اخیستنه او د انرژۍ سپما هغه موضوعات دي، چې ښځې ورسره نېغه اړیکه لري؛ نو د ښځو پیاوړتیا له ټولنې سره مرسته کوي، چې د پایداره پرمختګ موخو ته ورسېږي. همدارنګه د ښځو پرمختګ او پیاوړتیا د نیمایي ټولنې د پرمختګ سبب کېږي.

څرنګه چې د ښځو پیاوړتیا یوه ټولنیزه موضوع ده او ټولنیزې پدیدې یواځې په یوه عامل پورې تړاو نلري. د ښځو پیاوړتیا

هم د یوې ټولنیزې موضوع په توګه په بېلابېلو داخلي او بهرنیو عواملو پورې تړلې ده. که له یوې خوا داخلي عوامل، لکه رواني او جسماني وضعیت او د کورنۍ اقتصادي وضعیت د ښځو په پیاوړتیا کې مهم رول لري، له بلې خوا موجوده ټولنیز جوړښتونه هم په دې برخه کې آغېزناک دي. له همدې امله په دې مقاله کې د ښځو په پیاوړتیا کې د ټولنیز ملاتړ پر رول او آغېزو بحث کوو.

په یوه څېړنه کې چې د محمود کتابي او همکارانو له خوا یې په (۱۳۸۲ل.ل) کې تر سره شوې ده، دا موندل شوې، چې د زده‌کړو سطحه، د روغتیایي وضعیت ښه‌والی، د قانوني مالکیت حق درلودل، په کار ــ بازار کې د تبعیض رفعه کول او د سنتي باورونو له منځه وړل؛ ټول هغه عوامل دي، چې د ښځو په پیاوړتیا کې ډېر رول لري. په دوی کې د زده‌کړو سطحه په مستقیم ډول او نور عوامل په غیرمستقیم ډول د ښځو په پیاوړتیا کې رول لري. په اقتصادي برخه کې د لوړو زده‌کړو لرونکې ښځې له مالي پلوه ځواکمنې وي او په لوړه کچه د مالکیت له حق څخه برخمنې دي. یوه بله څېړنه، چې د (مشارکت؛ د ښځو د پیاوړتیا بنسټي لار) تر عنوان لاندې تر سره شوې ده، ښایي چې ښځې، کرنه، اقتصاد او د ټولنیزو چارو په بېلابېلو برخو کې د آغېزناکې قوې په توګه ګڼل کېږي. همدارنګه ښځې په ټولنه کې د انساني ځواک په توګه پراخه ونډه لري، چې د دوی له ملاتړ او پیاوړتیا پرته د اقتصادي پرمختګ تر لاسه کول ناممکن دي.

## د ښځو د پیاوړتیا اړوند نظریې

د ښځو چارو کارپوهه سارا لانګه په دې باور ده، چې د مېرمنو د پیاوړتیا په موخه باید پینځه مرحلې (هوساینه، لاسرسی، پوهاوی، ګډون او کنټرول) په ترتیب سره طی شي. د هوساینې(رفاه) مرحله کې د ښځو مادي هوساینه لکه تغذیه او عاید څېړل کېږي. د ښځو د پیاوړتیا په دې پړاو کې د ښځو او نارینه‌وو تر منځ د تبعیض له منځه وړل په پام کې نیول کېږي. په (لاسرسي) مرحله کې ښځې باید د تولید عواملو (ځمکه، کار او پانګه)، عاید لرونکو کارونو او د مهارتونو د زده‌کړو خدمتونو ته، چې تولید او د مېرمنو استخدام ته زمینه برابروي، لاسرسی ولري. همدارنګه په دې مرحله کې باید ښځې د خپل لاس د محصول او ګټې واک ولري. په (پوهاوي) مرحله کې باید ښځې پوهې شي، چې د دوی ستونزې او مشکلات د دوی د شخصي نیمګړتیاوو له امله ندي، بلکې دا ستونزې په کلتور پورې اړوند جنسیتي تبعیض څخه سرچینه اخلي، چې د تغییر او بدلانه وړ دي. (پوهاوی) دلته پر برابرۍ د باور په معنیٰ دی. په (ګډون) مرحله کې مېرمنې په هغوی پورې اړوند په ټولو برنامو او پروګرامونو کې ګډون کوي. ګډون باید په ټولنه کې د هغوی له شمېر او تعداد سره متناسب وي. په وروستۍ مرحله کې چې کنټرول دی، د ښځو او نارینه‌وو تر منځ د قدرت توازن ته اشاره کوي. (لانګه، ۱۳۷۲ل، ۳۲)

امارتیاسن پخپل کتاب (پرمختیا د ازادۍ په معنیٰ) کې یو څېرکی ښځو ته ځانګړی کړی، چې (د ښځو فعال رول او ټولنیز بدلونونه) تر سرلیک لاندې دی. دا څېرکی د ښځو په روغتیا او سلامتیا کې د دوی فعال رول ته اشاره کوي او د دې رول آغېزې په مختلفو برخو، لکه د ماشومانو پر زېږون او بقا څېړي. امارتیاسن دا دوه برخې نه یواځې د ښځو په پیاوړتیا کې آغېزناکې ګڼي، بلکې د ټولنې په پرمختګ کې یې هم اړینې ګڼي. ښاغلی سن د ښځو فعال رول له اقتصادي او ټولنیزو فعالیتونو څخه تر سیاسي مشارکت او ګډون پورې د تعمیم وړ ګڼي. هغه د ښځو فعال رول د پرمختګ یو له هېرو شوو برخو څخه ګڼي او په دې باور دی، چې د ښځو سیاسي، اقتصاد او ټولنیز مشارکت په اوس وخت کې د پرمختګ په برخه کې تر ټولو مهم دی. (سن، ۱۳۸۵ل، ۲۲۹)

مالهوترا د ښځو پیاوړتیا د یوې پروسې په توګه تعریفوي، چې مېرمنې پکې د خپل ځان او چارو د درستولو وړتیا پیدا کوي، په ځان باور ته وده ورکوي، په سرچینو د کنټرول او مستقل انتخاب له حقوقو څخه دفاع کوي، چې هغوی د ضعف او د بل واک لاندې حالته ژغوري. (Malhatra, schuler & ۲۰۰۲:۵)

## نظري بنسټونه

موږ ټول د دې وینا په اړه موافق یو، چې «انسان یو ټولنیز موجود دی.»؛ زموږ پلرونو او نیکونو په ټولنیزه او قبایلي بڼه ژوند کاوه او لا تر اوسه له ټولو عصري وسایلو سره، چې په انفرادي ډول ژوند کول اسانه کوي، په انفرادي ژوند پلوه ټولنو کې هم انساني اړیکو خپل اهمیت بایللی ندی.

که «ټولنیزې اړیکې» هره هغه اړیکه تعریف کړو، چې له خپل ځان پرته له بل چا سره وي؛ نو احتمال شته چې تاسې

تایید کړئ، چې زموږ ژوند، که شخصي وي یا مسلکي، له ټولنیزو اړیکو پرته له جدي ستونزو سره مخ کېږي.
که یو څه فکر وکړو او وګورو، چې په دې ورورستیو کې مو له کورنۍ، خاوند، دوستانو، ملګرو، همکارانو او ګاونډیانو څخه کومې مرستې تر لاسه کړې دي؟
شاید له یوه همکار څخه مو پیسې پور اخیستې وي، یا د کورنۍ په مالي ملاتړ په زده‌کړو بوخت یاست. شاید له یوه دوست سره مو د زړه خواله کړې وي. ممکن د یوه متخصص ډاکټر د نوم پوښتنې لپاره مو له کوم ملګري سره مشوره کړې وي او له هغه مو غوښتې وي، چې تاسې هغه ډاکټر ته بوځي؛ دا ټول د ټولنیز ملاتړ بېلګې دي.
واضحه ده، چې د ټولنیزو اړیکو بحث یوه ډېره پخوانۍ موضوع ده او هېڅوک نشي کولی، چې د دې بحث د مطرح کولو ادعا وکړي. انسانانو تل ټولنیز اړتیاوې درلودې او د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې له ټولنیزو اړیکو ګټه اخیستې ده؛ خو تقریباً له اویایمې او اتیایمو لسیزو(نیمه پېړۍ مخکې) راهیسې یوه په زړه پورې پېښه رامنځ ته شوه. په کتابونو، مقالو او ویناوو کې یوه اصطلاح عامه شوه، چې دا ډول بحثونه یې تر خپل چتر لاندې راوستل، هغه د ټولنیز ملاتړ (Social Support) کلمه وه.
وروسته له دې چې د ټولنیز ملاتړ اصطلاح وپېژندل شوه او تر یوه حده یې تعریف مشخص شو، سمدستي نورې څېړنې پیل شوې. هغه پوښتنې چې څېړونکي یې د ځواب موندلو په لټه کې وو، په دې ډول وې؛

- د ټولنیز ملاتړ مثبتې آغېزې کومې دي؟
- ټولنیز ملاتړ د افرادو پر رواني او جسمي روغتیا څه آغېزې لري؟
- ټولنیز ملاتړ د ژوندانه پر کیفیت څه آغېزه لري؟
- په بېلابېلو کلتورونو کې د ټولنیز ملاتړ تر منځ کوم توپیرونه موجود دي؟
- د ټولنیز ملاتړ ترلاسه کول کوم کوم لګښتونه لري؟

دا ټولې هغه پوښتنې وې چې څېړونکي یې د موندلو په هڅه کې وو او د هغوی هڅو ته یې شکل ورکاوه.(متمم، ۱۴۰۱ل)

## د ټولنیز ملاتړ تعریف او شاخصونه

مخکې تر دې چې د ټولنیز ملاتړ پر مفهومي تعریف خبرې وکړو، غوره ده چې د سېډني کاب (Sydney Cobb) له خولې د ټولنیز ملاتړ تعریف ولولو؛ هغه پخپله مقاله کې، چې د ژوندانه د فشارونو په مدیریت کې یې د ټولنیز ملاتړ د رول په اړه لیکلې، ټولنیز ملاتړ داسې تعریفوي:
ټولنیز ملاتړ د اطلاعاتو مجموعه ده، چې یو فرد یې پر بنسټ دې باور ته رسېږي، چې له هغه سره مینه کېږي، هغه ته پاملرنه کېږي او د متقابلو تعهداتو د یوې شبکې غړی دی. هغه زیاتوي، فرد د ټولنیز ملاتړ په پایله کې دې پایلې ته رسېږي، چې له داسې ملاتړ څخه برخمن دی، چې د ژوند له فشار او ستونزو څخه په رامنځ ته شویو روغتیایي زیانونو کې به یې تر ډېرې کچې ساتنه وکړي. (متمم، ۱۴۰۱ل)
بېلابېلو څېړونکو او د نظر خاوندانو پخپلو مقالو کې ټولنیز ملاتړ ته بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي دي؛ د بېلګې په توګه ځینو د ټولنیز ملاتړ عاطفي اړخ ته زیات ارزښت ورکړی دی، لکه (د زړه خواله) او ځینو نورو د ټولنیز ملاتړ د وسایلو پر اړخ تمرکز کړی دی، لکه (پور ورکول).
ټولنیز ملاتړ دې موضوع ته اشاره کوي، چې یو کس پخپل ژوند کې او د ستونزو پر مهال د خپلې کورنۍ، دوستانو او نورو نږدې کسانو له همفکرۍ او مرستې څخه برخمن شي او له دوی سره د نږدېوالي احساس وکړي. په دې څېړنه کې ملاتړ د حمایتي کړنو په بڼه دی، یعنې مختلف ډولونه د مرستې او ملاتړ چې فرد یې د مختلفو ټولنیزو اړیکو په پایله کې تر لاسه کوي؛ دا مرستې او ملاتړ د عاطفي، وسایلي او معلوماتي مرستو بڼه لري.
عاطفي ملاتړ په هغو مرستو دلالت کوي، چې یو کس یې د ستونزو او د ژوند د سختو شېبو پر مهال له نورو څخه تر لاسه کوي. دا ډول ملاتړ د عاطفي اړیکو په جوړولو او ساتلو کې مهم رول لوبوي؛ ځکه چې د دې له لارې کس ته دا احساس ورکول کېږي، چې یواځې نه دی او د نورو ملاتړ له ځانه سره لري. په ځانګړې توګه، د ښځو په ځواکمنتیا کې د عاطفي ملاتړ آغېز ډېر ارزښت لري؛ ځکه چې دا ډول ملاتړ هغوی ته د ذهني آرامۍ، ځان‌باور او له ستونزو سره د مبارزې وړتیا ورکوي.
د ځان ارزښت ملاتړ (Self-esteem Support) دې ته اشاره

کوي، چې د يوه کس په رواني فشارونو او ستونزو کې نور هغه ته د يوه ارزښتمن کس په توګه درناوی وکړي. دا ملاتړ فرد ته دا احساس ورکوي، چې د هغه ځانګړې وړتیاوې د ستونزو په حل کې اغېزناکې دي او پر هغوی بریا تر لاسه کولی شي. د ځانارزښت ملاتړ په ځانګړې توګه د ستونزو په وخت کې د یوې ښځې په اعتماد او باور کې مهم رول لوبوي، چې د هغې په ژوند کې مثبت اغېز لري.

د وسایلو (ابزاري) ملاتړ (Instrumental Support) هغو مالي او خدماتي سرچینو ته د لاسرسي په معنیٰ دی، چې یو کس يې د ستونزو او سختیو پر مهال له خپلې کورنۍ او نږدې ملګرو څخه تر لاسه کوي. دا ډول ملاتړ په ژوند کې د وسایلو، لکه مالي سرچینو او نور خدماتي اسانتیاوو د برابرولو لپاره مهم دی؛ ځکه چې د دې له لارې یو فرد پر ځان بسیا کېږي او د ستونزو د حل وړتیا تر لاسه کوي.

معلوماتي ملاتړ (Informational Support) په دې معنیٰ دی، چې یو کس له خپل چاپېریال څخه اړین معلومات او لارښوونې تر لاسه کوي، چې د خپلو ستونزو د حل لپاره ورته اړتیا لري. دا ډول ملاتړ د ستونزو د حل په برخه کې د افرادو د پرېکړو پر کیفیت مثبت اغېز کوي؛ ځکه چې له دې لارې دوی د خپلو ستونزو په اړه روښانه او کره معلومات تر لاسه کولی شي.

ټولنیز شبکه‌يي ملاتړ (Social Network Support) د هغو شبکو په ارزښت باندې ټینګار کوي، چې کس پکې رسمي یا غیر رسمي غړیتوب لري. دا ډول شبکې د اړتیا پر مهال د مرستې او ملاتړ سرچینې جوړوي او د ټولنیزو اړیکو په رامنځ ته کولو او ساتلو کې مهمې دي. (کلدي، سلحشوري، ۱۳۹۵ل، ۷)

## د ښځو په پیاوړتیا کې د ټولنیز ملاتړ اغېزې

دا څېړنه د ښځو په پیاوړتیا کې د ټولنیز ملاتړ اغېز څېړي او دا په ډاګه کوي، چې ټولنیز ملاتړ د ښځو په پایښت لرونکي پرمختګ یو مهم فکتور دی. د ښځو پیاوړتیا مختلف اړخونه لري، چې پکې رواني، اقتصادي، فیزیکي او ټولنیزه پیاوړتیا شامله ده. ټولنیز ملاتړ په څو برخو وېشل کېږي، لکه عاطفي ملاتړ، ځانارزښت ملاتړ، د وسایلو ملاتړ، معلوماتي ملاتړ او د ټولنیزې شبکې ملاتړ. ټولنیز ملاتړ ښځې پیاوړې کوي او د ازادۍ په لور د هغوی تګ ګړندی کوي. ټولنیز ملاتړ ښځو ته دا فرصت ورکوي، چې پخپلو پرېکړو کې آزادي ولري، اقتصادي ثبات ولري او له رواني روغتیا څخه برخمنې شي. په دې مقاله کې د ښځو د پیاوړتیا پېنځه اړخونه څېړل شوي دي، چې هر یو پر خپل ځای ځانګړي اهمیت او اغېز لري. دلته د ټولو اړخو او د ښځو په پیاوړتیا کې يې د اغېزو په اړه غږېږو.

**عاطفي ملاتړ:** دا ډول ملاتړ د ښځو د پیاوړتیا په برخه کې ډېر مهم دی. عاطفي ملاتړ په دې معنیٰ دی، کله چې په ستونزمنو حالاتو کې مېرمنې له ټولنې څخه ملاتړ تر لاسه کوي، دا د هغوی پر احساساتو او ذهنیت مثبت اغېز کوي او آرامتیا ورکوي. عاطفي ملاتړ نه یواځې ښځو ته د آرامتیا حس ورکوي، بلکې د هغوی پر رواني ثبات او ځواکمنتیا هم مثبت اغېز کوي. دا ډول ملاتړ ښځو ته له ستونزو او ننګونو سره د مقابلې ځواک ورکوي، چې په پایله کې د ژوند ستونزې په ښه توګه مدیریت کولی شي. عاطفي ملاتړ د ښځو د رواني روغتیا او ځواکمنتیا لپاره اړین ګڼل کېږي او په ټولنه کې د ښځو د رول په وده او پرمختګ کې مرسته کوي.

**د ځان ارزښت ملاتړ:** د ځان ارزښت ملاتړ د ښځو د ټولنیز ملاتړ په برخه یو بل مهم مفهوم دی. د ځانارزښت ملاتړ فرد ته حس ورکوي، چې هغه یو ارزښتمن شخص دی او د هغه شتون او ونډه د نورو لپاره اهمیت لري. د ځانارزښت ملاتړ د ځان په اړه د فرد مثبت لید او د درنښت احساس پیاوړی کوي، چې دا کار د فرد په رواني روغتیا ژورې مثبتې اغېزې لري. د څېړنو له مخې هغه کسان چې د ځان ارزښت ملاتړ تر لاسه کوي، پخپلو پرېکړو ډاډمن وي، د نورو پر وړاندې مثبت چلند کوي او د فشار او ستونزو پر وړاندې د مبارزې وړتیا يې ډېره وي. د ځان ارزښت ملاتړ د مېرمنو د رواني ملاتړ لپاره حیاتي ګڼل کېږي؛ دا ځکه چې دا کار مېرمنو ته دا ډاډ ورکوي، چې دوی د ټولنې ارزښت لرونکي غړي دي او هغوی ته دا امکان ورکوي، چې په ټولنیزو فعالیتونو کې په پوره ډاډ او لېوالیتا سره برخه واخلي. د ځان ارزښت ملاتړ د ښځو رواني روغتیا ډاډمنوي، د ستونزو پر وړاندې د مبارزې وړتیا يې زیاتوي او د هغوی د شخصیت ودې او پرمختګ لپاره زمینه برابروي.

**د وسایلو ملاتړ:** فرد د ټولنې د یوه غړي په توګه د خپلو مادي ستونزو د حل لپاره د ټولنې مالي ملاتړ ته اړتیا لري،

چې دا کار د هغوی د ورځني ژوند د اسانۍ او اقتصادي خونديتابه لپاره اړين دی. د وسايلو ملاتړ مېرمنو ته زمينه برابروي، چې له مالي فشار او بېوزلۍ څخه ځان وباسي او له اقتصادي او مالي پلوه پیاوړې شي. هغه مېرمنې چې د وسايلو ملاتړ لري پخپلو پرېکړو کې پیاوړې وي او خپل ورځنی ژوند په ښه توګه مخته وړي. د وسايلو ملاتړ کچه تر ډېره د کورنۍ په اقتصادي وضعيت په تړاو لري؛ هغې مېرمنې، چې کورنۍ يې پیاوړی اقتصاد لري، زياتره وخت د وسايلو له ملاتړ څخه برخمنې وي، په داسې حال کې چې د کمزوري اقتصاد لرونکې کورنۍ د مالي ملاتړ په برخه کې له محدوديتونو سره مخامخ دي. په ټوله کې د وسايلو ملاتړ د ښځو په اقتصادي ثبات، پرمختګ او ټولنيز موقف لوړولو کې خورا مهم رول لوبوي.

**معلوماتي ملاتړ:** د معلوماتي ملاتړ په پايله کې مېرمنې کولی شي د ستونزو د حل په برخه کې لارښوونې او مشورې تر لاسه کړي، چې د دوی لپاره په شخصي، اقتصادي او ټولنيزو برخو کې خورا ګټورې تمامېږي. کله چې مېرمنې پراخو معلوماتو ته لاسرسی ولري، دوی خپلې ستونزې په ښه توګه حل کوي او د خپلو حقونو او فرصتونو په اړه پوهه تر لاسه کوي. معلوماتي ملاتړ د مېرمنو د تصميم نيولو وړتيا هم لوړوي او هغوی سره د ټولنيزو اړيکو جوړولو په برخه کې هم مرسته کوي.

**شبکه‌يي ملاتړ:** ټولنيز شبکه‌يي ملاتړ مېرمنو ته دا امکان ورکوي، چې په ټولنه کې خپل آغېز زيات کړي او د ټولنې له نورو غړو سره په ګډه په پرمختيايي فعاليتونو کې ونډه واخلي. همدارنګه دا ملاتړ د ټولنيز پيوستون او اړيکو رامنځ ته کولو لپاره اړين دی. شبکې او اړيکې مېرمنو ته زمينه برابروي، چې له هم‌فکره خلکو سره په ګډه د خپلو موخو تر لاسه کولو لپاره هڅه وکړي او د ستونزمنو حالاتو پر وړاندې په قوي دريځ سره ودرېږي.(کلدي، سلحشوري، ۱۳۹۵ل، ۹)

## پایله

د ښځو پیاوړتیا د ټولنې د پايداره پرمختګ لپاره يو بنسټي او مهم عنصر دی، چې د ټولنيز ملاتړ له لارې نوره هم پیاوړې او آغېزناکه کېږي. ټولنيز ملاتړ، چې په عاطفي، ځان‌ارزښت، وسايلو، معلوماتي او شبکه‌يي برخو وېشل شوی دی، د ښځو په ژوند کې د بېلابېلو ننګونو او ستونزو د حل لپاره يو مهم فرصت او وسيله ده. د عاطفي ملاتړ له لارې ښځې د ستونزمنو حالاتو پر وړاندې آرامتيا او ذهني سکون تر لاسه کوي، پر ځان د باور احساس يې پیاوړی کېږي او د ستونزو پر وړاندې د مبارزې وړتيا يې لوړېږي.

د ځان ارزښت ملاتړ د ښځو د رواني ثبات او شخصي پرمختګ لپاره ځانګړی ارزښت لري. دا ملاتړ ښځو ته دا باور ورکوي، چې د دوی ونډه او شتون په ټولنه کې ارزښت لري او ټولنه هغوی ته د خپلو غړو په توګه ګوري. له بلې خوا، د وسايلو ملاتړ له اقتصادي پلوه د ښځو لپاره د مالي ثبات او خپلواکۍ وسيله ده، چې دوی ته د ورځني ژوند د آسانتيا او له مالي فشارونو څخه د خلاصون زمينه برابروي.

د معلوماتي ملاتړ په مرسته ښځې په شخصي، اقتصادي او ټولنيزو مسايلو کې د ستونزو د حل لپاره مهم او اړين معلومات او مشورې تر لاسه کوي، چې دا کار له هغوی سره د آغېزناکو پرېکړو نيولو کې مرسته کوي او په ټولنه کې د هغوی آغېز زياتوي. په پای کې، د شبکه‌يي ملاتړ ښځو ته په ټولنيز ژوند کې د ارتباط او پيوستون پراخ فرصتونه برابروي، چې له دې لارې هغوی کولی شي، له نورو سره په ګډه په پرمختيايي او ټولنيزو فعاليتونو کې ونډه واخلي.

په ټوله کې، د ټولنيز ملاتړ بېلابېل اړخونه ښځو ته د ژوند په ټولو برخو کې نه يواځې د برلاسۍ، خپلواکۍ او ځان‌باور احساس ورکوي، بلکې د هغوی د شخصيت په وده، رواني روغتيا، اقتصادي ثبات او ټولنيز آغېز کې هم مهم رول لري. د ټولنيز ملاتړ دا برخې د ښځو لپاره د يوه پیاوړي او پاينټ لرونکي ژوند د جوړولو لپاره بنسټي وسيله ده او هغوی ته دا زمينه برابروي، چې پخپل ژوند کې د پرمختګ، خپلواکۍ او عزت لار ونيسي. په پايله کې، د ښځو پیاوړتيا د ټولنې د نيمايي برخې د پیاوړتيا په معنیٰ ده، چې په ټوليزه توګه د ټولنې د پرمختګ او هوساينې لپاره لازمي ګام ګڼل کېږي.

## مأخذونه

۱. سن،آمارتیا.(۱۳۸۵ ل). توسعه به مثابه آزادی، ترجمه وحید محمودي، د تهران پوهنتون، د مدیریت پوهنځي خپرونې.

۲. کلدي، علي رضا او سلحشوري، پروانه. (۱۳۹۵ل). بررسی تاثیر حمایت اجتماعی بر توانمندسازی زنان. د ټولنیزې پراختیا د مطالعاتو مجله.

۳. لانگه، سارا .(۱۳۷۲ل). معیارهایی براي تواناسازی زنان، تهران: روشنگران.

۴. مازلو، آبرهام. (۱۳٦۷ل). انگیزش و شخصیت، ترجمه احمد رضواني، قدس رضوي ولایت، لومړی چاپ.

۵. متمم. (۱۴۰۱ل). معرفی و انواع حمایت اجتماعی.

6. Johnson, Emily. (2019). the role of social networks in enhancing women's economic empowerment. International Journal of Social Sciences.

7. Lee, Sarah. (2018). Social support as a mediator in the relationship between education and women's empowerment.

8. Smith, Johan. (2020). Social support and women's empowerment: A comparative analysis. Journal of Women's Studies.






# په افغانستان کې د نجونو د پیاوړتیا لپاره د پټو ښوونځیو رول

شمس څلاند

**لنډیز**

دا مقاله په افغانستان کې د پټو ښوونځیو اهمیت څېړي، په ځانګړې توګه نجونو ته چې د طالبانو د سختو قوانینو او سیاسي بې‌ثباتۍ له امله د زده‌کړو له حق محرومې شوې دي. پټ ښوونځي د طالبانو د لومړۍ واکمنۍ په دوره (۱۹۹۶-۲۰۰۱ز کلونو) کې رامنځته شول او په ۲۰۲۱ز کال کې د جمهوري نظام له سقوط وروسته یې بیا ځلې اهمیت وموند. دا مقاله په تفصیل سره ښایي، چې څرنګه یاد ښوونځي د نجونو زده‌کړو پر وړاندې محدودیتونو سره د مبارزې په لار کې آغېزناک دي او همدارنګه له زده‌کړه‌ییز، ټولنیز او رواني اړخه د نجونو ملاتړ کوي. سربېره پر دې، پټ ښوونځي نه یوازې د نجونو په علمي پیاوړتیا کې مهم دي، بلکې د کلتوري هویت په ساتنه، ټولنیز یووالي او د خپلو حقونو په اړه د هغوی د پوهې په لوړولو کې هم مهم رول لوبوي.

**تاریخي شالید**

د پټو ښوونځیو مفهوم په افغانستان کې کومه نوې خبره نده، په ځانګړي ډول د نجونو پټې او غیر رسمي زده‌کړې

په افغانستان ژورې تاریخي ریښې لري، چې د سیاسي بې‌ثباتیو او جګړو په وخت کې زده‌کړو ته د نجونو د لاسرسي د وسیلې په توګه کارول شوي دي. پټ او غیررسمي ښوونځي له ۱۹۹۶ مېلادي کال څخه تر ۲۰۰۱ کال پورې د طالبانو د لومړني حکومت په دوران کې د نجونو د زده‌کړو د ممنوعیت پر وړاندې د مبارزې په پار رامنځته شول. په هغه دوره کې طالبانو د نجونو د زده‌کړو پر وړاندې سخت او محدودوونکي قوانین وضعه کړل، چې نجونې یې له مکتبونو او هر ډول عمومي زده‌کړو څخه محرومې کړلې. سره له دې ټولو محدودیتونو افغان مېرمنو او ښوونکو په کورونو او پټو ځایونو کې د غیر رسمي ښوونځیو ایجاد ته متې رابډ وهلې، چې زده‌کوونکو ته به یې سوادآموزي، ابتدایي ریاضي او نور اړین مهارتونه ورزده کول. (Mohammad,2021)

د طالبانو د واکمنۍ په لومړي دور کې پټ ښوونځي زیاتره د ښځو له لوري، چې یا به یې په تدریس کې تجربه درلوده او یا به له پوهنتون فارغې وې، اداره کېدل. هغه وخت درسي برنامه ساده، خو حیاتي وه، چې پکې سوادزده‌کړه، دیني زده‌کړې او حرفوي زده‌کړې شاملې وې، همدارنګه په کابل او نورو لویو ښارونو کې (کورني ښوونځي) رامنځته شول، چې زیاتره یې د ښځو حقونو فعالو ډلو او نړیوالو سازمانونو له لوري همغږي کېدل.

کله چې په ۲۰۰۱ مېلادي کال کې د طالبانو نظام سقوط شو، د نجونو زده‌کړو بنسټونه او ښوونځي د نوي دولت په ملاتړ بیا راژوندي شول او میلیونونه نجونې ښوونځیو ته بېرته ستنې شولې. د یونسکو د راپور پر بنسټ تر ۲۰۱۸ مېلادي کال پورې د افغانستان د ټولو زده‌کوونکو ۴۰ سلنه یې نجونې وې. سره له دې هم دا پرمختګ غیر متوازن و او زیاترو کلیوالي سیمو کې د نجونو د زده‌کړو بهیر د کلتوري خنډونو، زیربناء نشتوالي او دومدارو جګړو له امله له خنډ سره مخامخ و.

د ۲۰۲۱ز کال اګسټ میاشت کې د طالبانو په بیا واکمنېدو سره نجونې یو ځل بیا د زده‌کړو او کار له اساسي حقونو څخه بې‌برخې شوې. د نجونو پر مخ د منځنیو ښوونځیو دروازې وتړل شوې او له پوهنتونونو او ډېری کاري فرصتونو او دندو منعه شوې. (Human rights, 2024)

## پټ ښوونځي د خلاصون لار

سره له دې چې طالبانو د افغان نجونو زده‌کړو پر وړاندې سخت محدودیتونه وضع کړي دي؛ خو اوس هم ډېرې نجونې په فداکارۍ او شجاعت سره پټو ښوونځیو ته درومي. دا ښوونځي زیاتره د رضاکاره ښوونکو له لوري اداره او په مخ وړل کېږي، چې د اړینو مضامینو او ژوندانه مهارتونو په برخه کې مهم درسونه وړاندې کوي.

(Shift land) په افغانستان کې یو پټ ښوونځی دی. شېفټ لېنډ د (د بدلون او روښانتیا الهام بښونکې ځمکه) معنیٰ ورکوي. دا ښوونځي په یوه کرایه شوې خونه کې فعالیت کوي. د شېفټ لېنډ ښوونکي زیاتره ایرانیان دي، ټول په رضاکارانه توګه کار کوي او له انګلستان، آلمان، هندوستان او ایران نه په انلاین ډول نجونو ته اړین مضامین او انګلېسي ژبه تدریس کوي. همدارنګه یو رضاکار ایرانی ارواپوه په انلاین ډول نجونو ته انفرادي مشورې هم ورکوي، چې له هغوی سره د خپلو ستونزو په حل کې مرسته وکړي. اوس مهال ۳۰۰ افغان نجونې د طالبانو واک لاندې په دغه پټ ښوونځي کې زده‌کړې کوي، چې د دوی له منځه ۴۰ تنه یې د انګلېسي ژبې نړیوالو ازموینو ته تیاری نیسي، چې یادې ازموینې په بریالیتوب سره پاس کړي، په راتلونکي کې بورسیو ته غوښتنلیکونه واستوي او له دې لارې خپل برخلیک بدل کړي.(Javdani,2024)

)دریچه( یو بل پټ ښوونځی دی، چې د افغانستان په ۱۹ ولایتونو کې فعالیت لري. دا ښوونځی نږدې ۴۵۰۰ تنه زده‌کوونکې لري، چې د ۱۵۰ تنو ښوونکو له لوري ورته تدریس کېږي. همدارنګه یاد ښوونځی هڅه کوي، چې نجونې له خپګان او تشویش څخه وژغوري، هغه چې د ښوونځیو له بندیدو وروسته ورسره ګنې نجونې لاس او ګرېوان دي. د یاد ښوونځي مسوولین هڅه کوي، چې د جمهوریت دورې ټول تدریسي مضامین نجونو ته ورزده کړي؛ خو د دوی اصلي تمرکز پر بنیادي مضامینو (لکه: ریاضي، فیزیک، کېمیا، بایولوژي او . . .) دی.(VOA Dari, 2024)

## د نجونو په زده‌کړو کې د پټو ښوونځیو رول

**۱. زده‌کړو ته لاسرسی:** پټ ښوونځي په هغو سیمو کې په ځانګړې ډول نجونو ته د زده‌کړو فرصتونه او امکانات برابروي، چې دودیز ښوونځي پکې منعه شوي وي، یا هم ورتګ خوندي نه‌دی. په افغانستان کې چې د نجونو پر زده‌کړو طالبانو بندیز لګولی، پټ ښوونځي دا امکانات

برابروي، چې نجونې له څورونې او وېرې پرته اساسي مضامین او مهارتونه زده کړي. د پټو ښوونځیو له لارې زده‌کړو ته لاسرسی په نجونو کې د بې‌سوادۍ کچه کموي، د کارموندنې فرصتونه لوړوي او هغوی ته وړتیا ورکوي، چې پیاوړي واوسي او د خپلو حقونو لپاره مبارزه وکړي.

**۲. پیاوړتیا:** زده‌کړې د پیاوړتیا لپاره یوه ځواکمنه وسیله ده. پټ ښوونځي نجونې په زده‌کړو او اړینو مهارتونو سمبالوي او په هغوی کې د خپلواکۍ او ځواکمنتیا حس پیاوړی کوي. پیاوړتیا کې په علمي موضوعاتو سربېره د ژوند مهارتونه، انتقادي فکر او په ځان باور هم شاملېږي. هغه نجونې چې پټو ښوونځیو ته درومي، یواځې ریاضي او ساینس نه زده کوي، بلکې د ژوند هغه مهارتونه هم زده کوي، چې دوی له ستونزو سره مبارزې ته چمتو کوي. د دوی په ځان باور پیاوړی کېږي او دا وړتیا ترلاسه کوي، چې خپلې پرېکړې پخپله وکړي، چې دا کار په ټولنه کې د یوه اغېزناک شخص په توګه د هغوی له مطرح کېدو سره مرسته کوي، په پایله کې دوی بیا کولی شي، په ټولنه کې بدلون رامنځته کړي او د دوی پر وړاندې شته خنډونه وننګوي.

**۳. رواني ـ ټولنیز ملاتړ:** پټ ښوونځي نه یواځې اکاډمیکې زده‌کړې وړاندې کوي، بلکې د زده‌کوونکو اړین عاطفي او رواني ملاتړ هم تر سره کوي. په کوم چاپېریال کې چې نجونې له شدید رواني فشار او نامعلوم برخلیک سره لاس او ګریوان وي، پټ ښوونځي کولی شي، د هیلې د یوه څرک او خوندي ځای په توګه خدمت وکړي. پټو ښوونځیو کې ښوونکي او همزولي زده‌کوونکي د ملاتړ یوه شبکه رامنځته کوي، چې هلته زده‌کوونکي کولی شي، خپلې وېرې، هیلې او تجربې له یوه بل سره شریک کړي. ځینې پټ ښوونځي د زده‌کوونکو رواني ملاتړ په پار هغوی ته د مشورې ورکولو امکانات برابروي، چې له ستونزو او فشار سره په آغېزناکه توګه مبارزه وکړي.

**۴. د ټولنې جوړونه:** پټ ښوونځي په زده‌کوونکو او د هغوی په کورنیو کې د همپالنې او تعلق حس پیاوړی کوي. دوی د ټولیز عمل او همپالنې د یوه مرکز په توګه عمل کوي او هڅه کوي، چې له یوه بل سره د ګډ هدف «زده‌کړې» په موخه همکاري وکړي.

**۵. د کلتور او هویت ساتنه:** که څه هم د پټو ښوونځیو اساسي موخه له زده‌کړو څخه محروم قشر ته د اړینو او اساسي زده‌کړو امکانات برابرول دي؛ خو دا چې یاد ښوونځي معمولاً په هغو سیمو کې فعالیت کوي، چې جګړې او یا هم ظالمو رژیمونو آغېزمنې کړې وي، دوی کولی شي پخپل نصاب کې د اړوندې ټولنې د تاریخ، ارزښتونو او کلتوري زده‌کړو شاملولو له لارې د کلتوري او ملي هویت په ساتلو کې مرسته وکړي.

## پایله

پټ ښوونځي په افغانستان کې د نجونو د تعلیم په برخه کې یوه بنسټي او حیاتي وسیله ده. د طالبانو په بیا ځل واکمنېدو سره د نجونو پر مخ د ښوونځیو دروازې وتړل شوې او له زده‌کړه‌ییزو فرصتونو محرومې شوې. په دې سختو شرایطو کې پټ ښوونځي د زده‌کړو لپاره خوندي او باوري فرصتونه رامنځته کوي، چې نه یواځې د نجونو تعلیمي اړتیاوې پوره کوي، بلکې په نجونو کې د شخصیت پیاوړتیا، خپلواکي او د ستونزو پر وړاندې مبارزې وړتیا ځواکمنوي.
پټو ښوونځیو کې یواځې تعلیمي نصاب نه تدریسېږي، بلکې د زده‌کوونکو د ژوند په مختلفو اړخونو، د هغوی له ډلې رواني روغتیا، ټولنیزې همغږۍ او کلتوري هویت ساتنې باندې تمرکز کېږي. په افغانستان کې د طالبانو له لوري د سختو محدودیتونو باجود، دا ښوونځي د نجونو د زده‌کړو او پرمختګ په لور د پټ، خو مهم حرکت په توګه را څرګند شوي دي. د رضاکاره ښوونکو هڅې چې د افغانستان او نړۍ له بېلابېلو سیمو څخه نجونو ته تدریس کوي، هغوی ته دا باور او هیله ورکوي، چې زده‌کړې یې یواځې د راتلونکي لپاره نه، بلکې په اوس کې هم یو لازمي حق دی. پټ ښوونځي د افغان ټولنې او نجونو د پرمختګ او روښانه راتلونکي لپاره یو مهم بنسټ دی. دا ښوونځي کولی شي تر یر یوه بریده د رسمي تعلیمي سېسټم د سقوط له امله رامنځته شوې تشه ډکه کړي. پټ ښوونځي د نجونو لپاره، چې د زده‌کړو او پرمختګ فرصتونه ترې اخیستل شوي، د خپلواکۍ او هیلو څرک دی. په دې ښوونځیو کې زده‌کوونکي نه یواځې دا چې اکاډمیکې زده‌کړې کوي، بلکې په خپلواکه توګه پرېکړه کول، د خپلو حقونو لپاره مبارزه او د ټولنې په پرمختګ کې د ونډې اخیستلو په شان مهارتونه هم زده کوي.

## وړاندیزونه

۱. نړۍوال سازمانونه او دولتونه دې د نجونو له پټو ښوونځیو څخه ملاتړ وکړي. یاد بنسټونه د مالي ملاتړ، سرچینو او د ښوونکو روزنې لپاره د ځانګړو پروګرامونو رامنځته کولو له لارې کولی شي، د پټو ښوونځیو دوامداره او اغېزناک فعالیت تضمین کړي.
۲. د پټو ښوونځیو د فعالیتونو پیاوړتیا لپاره باید د محلي ټولنو او والدینو ګډون وهڅول شي. د ټولنې د غړو د ملاتړ له لارې، د ښوونځیو موجودیت او دوام لا زیات پیاوړی کېږي.
۳. د پټو ښوونځیو په چوکاټ کې باید د رواني روغتیا اړوند پروګرامونه شامل شي، چې له لارې یې زده‌کوونکي له رواني او عاطفي ننګونو سره په اغېزناکه توګه مبارزه وکړي.
۴. پټو ښوونځیو کې دې د انلاین زده‌کړو برنامې پیاوړې شي، چې له لارې یې نجونې له نړۍوالو معیارونو سره سمو زده‌کړو ته لاسرسی ولري.

## اخځلیکونه

1. Mohammad, M. S. (2021). Education as an empowerment tool for women in Afghanistan: The insider perspectives of educated Afghan women (SASNET Publications Report 2021:1). Lund University, SASNET.
2. Human Rights Watch. (2024). Education in Afghanistan: A historical overview of restrictions on girls' education.
3. Javdani, Hoda. (2024). How Afghan women and girls are defying the Taliban with secret schools. Big Issue. https://www.bigissue.com/news/activism/afghanistan-women-girls-secret-schools-taliban/.
4. VOA Dari. (2024, June 13). Education of girls in secret schools in more than 19 provinces of Afghanistan. https://youtu.be/8tXTAT5NooU?si=3nT3Rj3IKx5YAzN2
5. Care International. (2024). Afghan Women Empowerment.


عکس: رادیو زمانه



# د ټولنې په پرمختګ کې د ښځې د کار رول


عاطفه بهشتي

د ښځو د رهبرۍ اکېډمۍ غړې



**لنډيز**

ښځې د بشري ځواک په توګه له خپلو اقتصادي حقونو څخه يو هم د کار کولو او عايد ترلاسه کولو حق لري، چې په اسلام کې ورسره هېڅ مخالفت نشته دی، بلکې په قرآن کريم کې راغلي دي، چې څنګه نارينه کار کولی شي، همدارنګه ښځې هم کار کولی شي. له همدې کبله، ښځې هم لکه نارينه په ټولنه کې کار کولی شي او د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخيستی شي؛ خو ډېری ښځې په وروسته پاتې ټولنو کې په کورنيو چارو بوختې وي او د خپلو ماشومانو په پالنه خپل ډېر وخت لګوي، چې په بدل کې هېڅ مزد نه ترلاسه کوي. که څه هم په غير مستقيم ډول د کورنۍ په اقتصاد کې برخه لري؛ خو له خپلو اقتصادي حقونو څخه د ناخبرۍ او د تعليم د نشتون له امله په بهر کې د نارينه‌وو په څېر د کار کولو او خپلواکه اقتصاد لرلو څخه پاتې راغلي دي، چې د ښځو د کار او زده‌کړې په برخه کې د دولت ملاتړ ته اړتيا لري.



**کليدي ټکي:** کار، ښځې، د ټولنې پرمختګ.

## سریزه

د نارینه او ښځو کار او کسب په ټولو ټولنو کې یوه اړینه چاره ګڼل کېږي؛ ځکه چې د هېوادونو پرمختګ یا نه پرمختګ ډېرې وخت په اقتصادي مسایلو او تولید پورې اړه لري. په ځانګړي ډول، ښځې د ټولنې د یوې ډلې په توګه د هېواد په پرمختګ کې اساسي رول لوبولی شي او حکومتونه باید د ښځو د زده‌کړې او کار کولو په برخه کې جدي پاملرنه او ملاتړ وکړي، چې د هېوادونو د پرمختګ لامل شي. په افغانستان کې په تېرو شلو کلونو کې د ښځو د زده‌کړې او کار لپاره یو ښه زمینه برابره شوې وه او ډېرو ښځو ته په بېلابېلو ځانګو کې د زده‌کړې او کار زمینه برابره شوه؛ خو د نوي حکومت په راتګ سره، له بده مرغه د ښځو زده‌کړې او کار ته نه یواځې پاملرنه نده شوې، بلکې له زده‌کړې او کار کولو څخه منعه شوې هم دي او دا یوه منفي مسله ګرځېدلې ده، چې نه یواځې له پرمختګ سره مرسته نشي کولی، بلکې ټولنه شا ته بیایي او په ټولنه کې د ډېرو ناخوښو او غیرمعقولو پایلو لامل ګرځېدلی شي.

تر دې وړاندې چې کومې څېړنې په دې برخه کې شوې دي، په سیاسي پرمختګ کې یې د ښځو رول په ګوته کړی دی. (اجمل بلوچ زاده، ۱۳۹۳ل)

په کار او زده‌کړو کې د ښځو ګډون ځانګړی اهمیت لري او د هېواد پرمختګ ته زمینه برابروي. په ټولنه کې د ښځو کار کولو موخه د کسب او کار او تشبث ایجاد دی، چې په هېواد کې د اقتصادي ودې او د پانګې د تولید لامل ګرځي او د هېواد پرمختګ ته هم زمینه برابروي.

**پوښتنه دلته دا ده چې څنګه د ښځو کار کول د هېواد د پرمختګ لامل ګرځي؟ دولت په ټولنه کې د ښځو کار کولو او پرمختګ کې څه رول لري؟**

د څېړنې فرضیه په دې اصل ولاړه ده، چې د زده‌کړې زمینه برابرول، په سیاسي او اقتصادي چارو کې ګډون، د کلتوري او ټولنیزو خنډونو لرې کول، د ښځو زده‌کړه او کار کول؛ د ټولنو، په ځانګړي ډول د افغانستان په پرمختګ کې کلیدي رول لرلی شي؛ ځکه چې په افغانستان کې د هېواد د نفوس یوه مهمه برخه ښځې دي او د ښځو فعاله ګډون په بېلابېلو برخو کې، لکه زده‌کړه، کار او تولید کې د هېواد د پرمختګ لپاره اساسي بدلونونه راولي.

## د څېړنې مېتود

په دې مقاله کې د څېړنې مېتود کتابتوني دی، چې یو ډول توصیفي - څېړنیزه محتوا ده.

## د مفاهیمو تعریف

**کار:** د دوامدارو دندو یوه مجموعه ده، چې فرد ته د یوې اداري او سازمان له لوري د کار کولو په موخه ورکول کېږي او په بدل کې یې عاید ترلاسه کوي. (حکمت نیا،۱۳۹۰ل)

## کار او د عاید ترلاسه کول

د ښځو له اقتصادي حقونو څخه یو حق، کار کول دي. د اسلام له نظره ښځې د مسلک په انتخاب کې آزادي لري. په فقهي مبانیو کې، «کار ته د احترام اصل» په اقتصادي برخه کې یو شرعي اصل ګڼل شوی دی. د دې اصل پر اساس، د هر چا کار له عرفي نظره اقتصادي ارزښت لري او ترسره کوونکی یې د یوې ټاکلي اقتصادي بدلې یا معاوضې تمه لرلی شي. په سورة نساء، آیت ۳۲ کې راغلي دي: «ولا تتمنوا ما فضل الله به بعضکم علی بعض للرجال نصیب مما اکتسبوا وللنساء نصیب مما اکتسبن واسئلوا الله من فضله ان الله کان بکل شیء علیما.»

**ژباړه:** «د هغې برترۍ هیله مکوئ، چې الله(ج) نورو ته ورکړې ده. (دا طبیعي او حقوقي توپیرونه ستاسو د ژوند نظام د ساتنې لپاره دي او د عدل پر بنسټ ولاړ دي.) له دې سره سره، نارینه خپله برخه لري او ښځې هم خپله (او د هېڅ یوه حقوق باید له پامه ونه غورځول شي.) له الله نه د هغه د فضل سوال کوئ؛ بېشکه الله په هر څه پوه دی.»

دغه آیت د ښځې او نارینه د خپل کار د پایلې په مالکیت باندې تایید کوي او په غیر مستقیمه توګه ښځو ته د کار او اشتغال اجازه ورکوي؛ خو د مسلک آزادي ځینې محدودیتونه لري، چې عبارت دي له؛

۱. دنده باید له شرعي سره مخالفه نه وي او باید مشروع او حلال عاید ولري.

۲. دنده باید له عامه ګټو سره مخالفه نه وي.

۳. دنده باید د نورو حقوقو ته زیان ونه رسوي. (حکمت نیا،۱۳۹۰ل)

د دغو درېیو شرطونو نشتوالی د دندې د مشروعیت د

نشتوالي لامل ګرځي. په همدې اساس باندې د ښځې لپاره هغه وخت د دندې ترلاسه کول د ممانعت وړ ندي، چې دغه درې شرطونه پوره کړي.

دا خبره د دې تایید کوي، چې ښځې د اقتصادي شخصیت له اړخه له نارینه‌وو سره هېڅ توپیر نلري او لکه نارینه له مالي او اقتصادي امتیازاتو څخه برخمنې کېدی شي. د ښځو د کار کولو لامل یواځې د کورنۍ اقتصادي وضعیت ښه کول او د کورنۍ مخ پر زیاتېدونکو اړتیاوو ته ځواب ویل ندي، بلکې له کار کولو سره د یوه لوړ ټولنیز حیثیت او مقام ترلاسه کول هم تړاو لري. دا خبره اړینه ده، چې د ښځو غیر مستقیم کار (د کورنۍ کارونه) هم یوه ډېره باریکه موضوع ده. د ښځو هغه کارونه، چې په کور کې تر سره کېږي او د «کورنۍ کارونو» تر عنوان لاندې یادېږي، تل له دې پرته ترسره شوي دي، چې کوم ټاکلی مادي بدیل دې یې ورکړل شي. په داسې حال کې چې دا ډول کارونه هغه څه دي، چې د ښځو د جنسیتي رول له کبله د دوی پر اوږو لوېدلي دي. له دې کبله چې کورنیو کارونو ښځو ته د خپلواک عاید هېڅ ډول حق ندی برابر کړی، ښځې اړې دي چې د خپلواک عاید ترلاسه کولو لپاره له کور څخه بهر هم کار وکړي او یا هم د عاید په بدل کې له نارینه‌وو سره تړاو پیدا کړي، چې دغه وضعیت ښځې په ناامن حالت کې راولي. په داسې حالاتو کې د اسلام د لارښوونو له پلي کولو پرته بله کومه لاره نه پاتې کېږي. هغه طرحه، چې د اسلام له لوري د ښځو لپاره د اجرت المثل په توګه په پام کې نیول شوې ده، هغه ارزښت څرګندوي، چې اسلام د ښځې لپاره او د هغې د کار لپاره په پام کې نیولی. (باقري،۱۳۹۰ل)

## د ښځو کار

یو له مهمو معیارونو څخه چې د هېواد د پرمختګ کچه اندازه کوي، هغه ارزښت او درناوی دی، چې په هېواد کې ښځو ته ورکول کېږي. پرته له شکه ښځو ته د فعال او جوړوونکي ځواک په توګه باندې پاملرنه په اقتصادي برخه کې په اهدافو ته رسېدلو باندې او هم د ټولنې د کاري ځواک په کمي او کیفي زیاتوالي ډېر آغېز لري. له دې امله چې د اقتصادي پرمختګ په آغېزناکو عواملو کې بشري ځواک او تخصص ته ډېر پام اړول کېږي؛ نو د ښځو کار او له پرمختګ سره یې اړیکه هم یوه اړینه چاره ده.

خو د ښځو حضور په ځینو کارونو کې، چې زیاتره د ښځینه مسلکونو په نامه یادېږي، لکه ښوونه، نرسېنګ او په ادارو کې خدمتي کارونه، چې په کور کې له مزد پرته دودیزو کارونو سره شباهت لري. دغه کارونه نه یواځې چې په ټیټ کیفیت کې ترسره کېږي، بلکې د معاش کچه یې هم ټیټه وي. له همدې کبله په داسې کارونو کې د ښځو ښکېلتیا، چې هغوی د خپلو دودیزو کارونو په ډول دندو باندې ګوماري، هېڅ مناسبه نده او ښځې له اقتصادي فعالیتونو څخه لرې ساتي. (سفیري، ۱۳۸۲ل)

په عمومي ډول د ښځو د کار پر وړاندې په ټولو هېوادونو کې ستونزې او خنډونه شته دي؛ که هغه صنعتي هېوادونه دي او که د ودې په حال کې هېوادونه دي؛ یواځې شدت او ضعف یې توپیر لري؛ ځینې عوامل یې زیات آغېزناک دي او ځینې بیا لږ آغېز لري. هغه غیر پرمختیایي خنډونه، لکه د ښځو فیزیولوژیک وضعیت او د شخصیت جوړښت یې، چې د ټولنې له کلتوري نظام او ارزښتونو څخه آغېزمن شوي دي، په ډېرو هېوادونو کې مهم خنډونه ګڼل کېږي. همدارنګه، د پرمختیایي خنډونو هغه برخه، چې د پرمختګ په حال کې هېوادونو جوړښتونو سره تړاو لري، د هر هېواد د ځانګړو شرایطو پر بنسټ د له منځه وړلو اړتیاوې په نښه کوي. (سفیري، ۱۳۸۲ل)

## په کار کې د ښځو د ګډون پایلې

که د ښځو پر وړاندې ټولنیز، کلتوري او اقتصادي خنډونه لرې کړل شي او دولت د ښځو د زده‌کړې او کار په برخه کې ملاتړ وکړي؛ نو پرته له شکه، ښځې هم د نارینه‌وو په څېر د ټولنې په پرمختګ کې اساسي رول لوبولی شي. د ښځو کار څو مهمې پایلې لرلی شي، چې عبارت دي له؛

۱. د ښځو له لوري له کور څخه بهر کار کول د کورنۍ د سرپرستۍ بار کموي او څومره چې د سرپرستۍ بار کم وي، د سړي‌سر عاید کچه (د هر شخص عاید) زیاتېږي. د پرمختګ یوه نښه همدا د سرپرستۍ بار دی.

۲. د ښځو د کار زیاتوالی د زېږون کچه کموي او په پایله کې د نفوس د ودې کمښت او د سړي‌سر عاید زیاتوالی رامنځته کوي، چې د اقتصادي ودې او پرمختګ لامل کېږي.

۳. په کار کې د ښځو د ګډون له زیاتېدونکې کچې سره، میندو ته د زده‌کړې ترلاسه کولو فرصت زیاتېږي، چې د ښځو د خپلواکۍ حس پیاوړی کوي او د کورنۍ په پرېکړو کې د ښځې د ونډې د زیاتوالي لامل ګرځي.

۴. په کلیوالي سیمو کې چې هر څومره زده‌کړه زیاته وي او مسلکي وېش ډېر شي او ښځې د نارینه‌وو ترڅنګ د کرنې او لاسي صنایعو په برخه کې له نویو ټکنالوژیو څخه ګټه واخلي او اړوندې زده‌کړې ترلاسه کړي، د هېواد په اقتصادي وده کې برخه اخیستی شي.

۵. په ښاري سیمو کې چې هر څومره ښځې لوړې او مسلکي زده‌کړې ولري او اړین مهارتونه ترلاسه کړي، چې په وسیله یې لوړو مسلکونو ته د لاسرسي وړتیا پیدا کړي، په هېواد کې اقتصادي وضعیت هماغومره ښه کېږي. (امیني‌زاده، ۱۳۸۴ل)

## پایله

په دې څېړنه کې د کتابتوني توصیفي څېړنیز مېتود په کارولو سره موږ دې پایلې ته ورسېدو، چې د هر هېواد د پرمختګ یو معیار هغه ارزښت دی، چې د ښځو اقتصادي ونډې ته ورکول کېږي. څومره چې په اقتصادي فعالیتونو کې د ښځو ګډون زیات وي، هماغه اندازه هېواد پرمختللی ګڼل کېږي.

د ښځو کار له ګڼو خنډونو سره مخ دی، چې پکې اقتصادي، ټولنیز او کلتوري خنډونه زیات دي؛ یا ښځې په داسې کارونو کې بوختې دي، لکه ښوونه، نرسېنګ، یا هم هغو کارونو ته ورته کارونو باندې بوختې دي، چې په سنتي ټولنو کې په دودیز ډول ورسپارل شوي دي. یا هم داسې کارونه کوي، چې د نارینه او ښځینه‌وو ترمنځ د معاش توپیر پکې موجود دی، دا ټولې هغه ننګونې دي، چې ښځې ورسره مخ دي.

په کار کې د ښځو ګډون، په عایداتو، تولید او د سړي‌سر عاید، د میندو لپاره د زده‌کړې فرصتونو، د خپلواکۍ د حس په پیاوړتیا او د پرېکړو کولو په مهارت کې زیاتوالی راولي. په کرنه او لاسي صنایعو کې د ټېکنالوژۍ کارول هم د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ لامل کېږي.

دولتونه باید د ښځو کار ته د زمینې برابرولو په موخه ځانګړي پروګرامونه پلي کړي، چې پکې د ښځو لپاره د زده‌کړې او مسلکي فرصتونه برابرول، د ښځو کار کولو ملاتړ، د ښځو لپاره د دندو برابرول او هغه پروګرامونه شامل وي، چې له ښځو سره د ټولنیزو او کلتوري خنډونو په لرې کولو کې مرسته وکړي.

## سرچینې


۱. قرآن کریم
۲. امیني‌زاده، محمد رضا. (۱۳۸۴ل) جایگاه اخص و ممتاز زن. د امیر کبیر خپرندویو موسسو پوري تړلې نړۍ‌واله مطبعه او خپرندویه شرکت.
۳. باقري، ش. (۱۳۹۰ل) ارزش افزوده کارخانه داری زنان و عوامل مؤثر بر آن. زن در توسعه و سیاست (مجله) د ښځو څېړنې
۴. حکمت نیا، م. (۱۳۹۰ل) حقوق زن وخانواده. لومړی چاپ. د «فرهنگ و اندیشه اسلامی» څېړنیز مرکز د خپرونو اداره.
۵. سفیري، خدیجه. (۱۳۸۲ل) اشتغال زنان در توسعه رضایت شغلی و نوع مشاغل. د ښځو د مقالو ټولګه؛ د باثباته پرمختګ لپاره ګډون او پلان جوړونه. (تهران: برګ زیتون)






# مېرمن

مجله

د مېرمن میډیا اداري
له لوري په خورا ویاړ
سره وړاندې کېږي.

موږ په ټولنیزو رسنیو کې هم څارلی شئ؛

@Merman_Media

www.merman.media